## د افغـــــانستان اســـــلامي امـــارت
## د ارشـــــاد، حج او اوقـــافو وزارت
## د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**
**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**
**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**١٤/ ربيع الأول /١٤٤٥ هـ، ق موافق د ٧ /ميزان /١٤٠٢هـ، ش**

# د صَدَقِې جاريې مفهوم، موارد او فضيلتونه

الحمد لله الذي يجزي المتصدقين، ولا يضيع أجر المحسنين، والصلاة والسلام على الرسول الأمين، أجود الناس أجمعين، وعلى آله وصحبه والتابعين، أما بعد :

قال الله في كتابه المجيد وفرقانه الحميد: { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَنفِقُواْ مِن طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ الأَرْضِ وَلاَ تَيَمَّمُواْ الْخَبِيثَ مِنْهُ تُنفِقُونَ وَلَسْتُم بِآخِذِيهِ إِلاَّ أَن تُغْمِضُواْ فِيهِ وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ } البقرة : (٢٦٧ )

### د صَدَقِې جارِيې مفهوم:

صدقه جاريه هر هغه عمل او کار ته ويل کيږي چې په ژوند کې د خلکو د فائدې په موخه انجام شوی وي او پس له مرګ څخه يي ثواب مسلمان ته رسيږي.

يا په بل عبارت صدقه جاريه د هر هغه خيريه عمل څخه عبارت دی چې ثواب يي پس له مرګه هم صدقه کوونکي ته رسيږي.

دا په دې معنا چې کله انسان وفات شي نو د اعمالو او ثوابونو دفتر يي وتړل شي خو که چيرې څوک يو داسې د خير او د نيکۍ عمل ترسره کړي چې خلکو ته ور څخه فائده او ګټه رسيږي، کله چې صدقه کوونکی وفات شي، نو د هغه له مرګ څخه وروسته هم هغه ته يې ثواب او اجر رسيږي، په دې شرط چې خلک ور څخه استفاده کوي لکه مسجد جوړول، کوهۍ کيندل او داسې نور.

کله چې څوک وفات شي په دنيا کې چې هغه کوم نيک کارونه او عبادات کول او له امله يي ثوابونه ګټل دهغه په مرګ سره دغه سلسله نوره بنده شي او پرته د هغو شيانو چې په شريعت کې راغلي دي نور ثواب ګټلی نشي.

مسلمان دوه قسمه نيک او د خير کارونه کوي ؛ يو ډول هغه د خير کارونه دي چې کله يي مسلمان وکړي ، الله تعالی ورته د هغه دنيت په اندازه اجر او ثواب ورکوي خو چې کله مسلمان مړ شي ددغو کارونو څخه ورته هيڅ ثواب نه رسيږي او د ثواب دروازه بنده شي . بل ډول هغه نيک او د خير کارونه دي چې مسلمان يي وکړي الله تعالی ورته اجر او ثواب ورکوي حتی چې ددغو کارونو او عملونو ثواب پس دهغه د مرګ څخه هم ورته رسيږي او ترڅو چې په هغو کارونو باندې خلک عمل کوي ، هغه ته يي پس له مرګ هم ثواب او اجر رسيږي چې دې ډول کارونو ته صدقه جاريه ويل کيږي.

صدقه جاريه عموما د خير او نفعي هغه کارونه دي چې په دوامداره توګه ورځخه خلک استفاده کوي او عملورباندې کيږي.

د صدقه جاريه په مفهوم کې د دوه خبرو پيژندل ضروري دي :

يوه داچې صدقه شوی عمل به دوام او بقاء ولري ، که چيرې صدقه شوی شی بقاء ونلري او په استعمال سره له منځه ځي دا بيا عامه صدقه او خيرات دی او صدقه جاريه نه ده لکه يو څوک چې ډوډۍ پخه کړي او فقيران يې وخوري.

دوهمه داچې صدقه شوی عمل به په دوامداره توګه خلکو ته نفع او فائده رسوي او خلک به ورڅخه ګټه اخلي.

په صدقه جاریه کې دا ضرور نه ده چې هر انسان دې په خپله صدقه جاریه وکړي ، بلکې که چیرې د کوم چا ورثه د وفات شوي شخص لپاره صدقه جاریه وکړي د هغې ثواب هم وفات شوي شخص ته رسیږي.
په دې خبره د امت د علماوو اجماع ده چې مړو ته د ژوندیو خلکو د نیکیو ثواب رسیږي په هغه صورت کې د نیک عمل ثواب وفات شوي شخث ته وبښي. که څوک کوم نیک عمل وکړي او ثواب يې کوم وفات شوي شخص ته وبښي هغه ته يې ثواب رسیږي.

## د صَدَقِې جاریې موارد:

**صدقه جاریه زیات موارد لري چې ځینې مشهور موارد یې په لاندې توګه دي:**

**۱**- د مسجدونو، دیني مدرسو او علمي حلقاتو لپاره ځمکه وقف کول؛ مدرسې او یتیم خانې جوړول؛ ترڅو پورې چې په وقف شوي جومات کې خلک لمونځ کوي او عبادت په کې کیږي تر هغې پورې به یې ثواب او اجر وقف کوونکي ته رسیږي او ترڅو پورې چې په مدرسه کې تدریس کیږي تر هغې پورې به یې وقف کوونکي ته اجر او ثواب په قبر کې رسیږي.
د وقف عمل په مخکنیو خلکو کې رائج ؤ متأسفانه چې اوس دا سنت په خلکو کم رنګه شوی دی .امید دی چې د وقف عمل په خلکو کې رائج شي ترڅو خیریه بنسټونه تقویه شي.
**۲**- خلکو ته د علم ښوول، خپرول او نشرول. خلکو ته د شریعت علم ښوول صدقه جاریه ده، ترڅو پورې چې عالم علم خپروي او په خلکو کې د دین لورې ته دعوت او تبلیغ کیږي، هغه عالم ته به یې ثواب او اجر رسیږي.
د علم خپرول او نشرول هغه صدقه جاریه ده چې نړۍ روښانه کوي او د هر عمل اساس ګڼل کیږي؛ ځکه که چیرې علم نه وي هیڅ دنیوي او اخروي عمل به په سمه توګه ترسره نشي.
د لیکلو، ثبتولو، او نشرولو په ذریعه د علم خپرول هم په صدقه جاریه کې راځي. طالب علمانو لره کتابونه اخیستل هم په صدقه جاریه کې راځي.
امام سیوطي ددې حدیث په شرح کې لیکي: ( أو علم ينتفع به) هُوَ مَا خَلَّفَهُ مِنْ تَعْلِيم أَوْ تَصْنِيفٍ وَرِوَايَةٍ وَرُبَّمَا دَخَلَ فِي ذَٰلِكَ نَسْخُ كُتُبِ الْعِلْمِ وَتَسْطِيرُهَا وَضَبْطُهَا وَمُقَابَلَتُهَا وَتَحْرِيرُهَا وَالْإِتْقَانُ لَهَا بِالسَّمَاعِ وَكِتَابَةُ الطِّبَقَاتِ وَشِرَاءُ الْكُتُبِ الْمُشْتَمِلَةِ عَلَى ذَٰلِكَ وَلَكِنْ شَرْطُهُ أَن يكون مُنْتَفعا بِهِ).حاشية السيوطي على سنن النسائي (٦/ ٢٥٢)
**۳**- د صالح اولاد تربیه کول. د صالح اولاد تربیه کول صدقه جاریه ده او صالح بچی چې نیک اعمال کوي ، لمونځ کوي، تلاوت کوي، روژه نیسي او نور د نیکۍ کارونه کوي پلار ته به دده د نیکو اعمالو ثواب رسیږي، ځکه نیک اولاد دپلار د زحمت نتیجه ده.
په حدیث شریف کې راځي: ( إِذَا مَاتَ الإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَمَلُهُ إِلاَّ مِنْ ثَلاثٍ : صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ ، أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ ، أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ ) رواه مسلم .
ترجمه:- کله چې مړ شي انسان قطع شي (ثواب د) عمل دده علاوه ددرې شیانو څخه ،یوه صدیق جاریه ده بل علم دی چې نفع ورباندې اخیستل کیږي او بل دده بچی دی چې دده د مرګ څخه ورسته ورته دعاء کوي.
په یو بل روایت کې راځي:( يَتْبَعُ الرَّجُلَ بَعْدَ مَوْتِهِ ثَلَاثُ خِصالٍ: صَدَقَةٌ تَجْرِي بَعْدَهُ، وَصَلَاةُ وَلَدِهِ عَلَيْهِ، وَعِلْمٌ أَفْشَاهُ يُعْمَلُ بِهِ بَعْدَهُ). سنن الدارمي (١/ ٤٦٢)
ترجمه:- ور پسې کیږي سړي پسې وروسته د مرګ د هغه څخه درې خصلتونه: صدقه جاریه او لمونځ د بچې دده او علم چې ده خپور کړی دی او عمل ورباندې کیږي.
د آحادیثو شارحین لیکي چې ددې درې واړو ثواب ځکه مړي ته رسیږي چې دا ټول د هغه مړ انسان د عمل او کسب نتیجه ده ځکه هغه ته ددې کارونو اجر او ثواب رسیږي.

امام نووي ذکر شوي حدیث په شرح کې وايي: (قَالَ الْعُلَمَاءُ مَعْنَى الْحَدِيثِ أَنَّ عَمَلَ الْمَيِّتِ يَنْقَطِعُ بِمَوْتِهِ وَيَنْقَطِعُ تَجَدُّدُ الثَّوَابِ لَهُ إِلَّا فِي هَذِهِ الْأَشْيَاءِ الثَّلَاثَةِ لِكَوْنِهِ كَانَ سَبَبَهَا فَإِنَّ الْوَلَدَ مِنْ كَسْبِهِ وَكَذَلِكَ الْعِلْمُ الَّذِي خَلَّفَهُ مِنْ تَعْلِيمٍ أَوْ تَصْنِيفٍ وَكَذَلِكَ الصَّدَقَةُ الْجَارِيَةُ وَهِيَ الْوَقْفُ) شرح النووي على مسلم (١١/ ٨٥)

همدا راز که چیرې څوک د علم په واسطه په دنیا کې داسې څه جوړ کړي چې خلک ور څخه فائده اخلي دا هم د صَدَقِې جاریې له جملې څخه شمیرل کیږي او هغه مخترع ته به یې پس له مرگه هم ثواب رسیږي په دې شرط چې خلک ور څخه په دوامداره توگه گټه اخلي.

۴- د مصحف (قرآن کري) چاپول او نشرول. د قرآن کریم چاپول هم صدقه جاریه ده او د قرآن کریم له بازار څخه رانیول او پر خلکو ویشل هم صدقه جاریه ده. دقرآن کریم تفسیرونه اخیستل او هغه وقف کول ، د آحادیثو کتابونه اخیستل او هغه وقف کول او د آحادیثو شروح اخیستل او وقف کول ټول په صدقه جاریه کې شامل دي.

ترڅو پورې چې په مصحف کې تلاوت کیږي ترهغې پورې به یې اجر او ثواب وقف کوونکي ته رسیږي.

۵- د مسافرو لپاره تم ځای او د شپې تیرولو ځای جوړول. پخوا به خلکو پیاده مزلونه کول او کله ناکله به یې په تش میدان کې شپه راغله ، نو شریعت د مسافرو لپاره د شپې تیرولو ځای جوړول او آبادول په صدقه جاریه کې شامل کړل.

٦-کوهی کیندل او نهر ویستل. د کوهي کیندل او یا هغه په پیسو اخیستل ترڅو چې عام خلک ورڅخه استفاده واخلي او یا د اوبو نهر او کانال کیندل چې د خلک او صحرایي ځاروي ورڅخه اوبه وڅښي ، صدقه جاریه ده، ځکه چې کوهي ته عام خلک ضرورت لري او نهر ویستل او د اوبو څخه خالي ځایونه اوبه نقل صدقه جاریه ده. همدا راز په لارو کې او د ضرورت پرځای کې د اوبو سبیلونه ایجادول هم صدقه جاریه ده.

د همدې وجی نه صحابه کرامو به کوهي ویستل او یا به یې په پیسو اخیستل او هغه به یې وقف کول.

په یو روایت کې راځي:( اشْتَرَى عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْجَنَّةَ مَرَّتَيْنِ بَيْعَ الْخَلْقِ: حِينَ حَفَرَ بِئْرَ رُومَةَ، وَحِينَ جَهَّزَ جَيْشَ الْعُسْرَةِ ).حلية الأولياء وطبقات الأصفياء (١/ ٥٨)

داسلام په ځلانده تاریخ کې د زبیدې رحمها الله چې د هارون الرشید ښځه وه، هغه تاریخي کانال د یادولو وړ دی چې له عراق څخه یې پیل کړی ؤ او د عرفات تر میدان پورې یې ویستلی ؤ ؛ ترڅو د حج په لار کې حجاج او نور مسافر ور څخه اوبه وڅښي او خپلو ځارویو ته یې هم ورکړې زیات شهرت لري چې تقریباً خوارلس سوه ۱۴۰۰ کلو متره اوږدوالی یې درلود.

۷-د باغ وقف کول . په ټولنه کې هر قسم خلک ژوند کوي چې ځینې بډایا او سرمایه داره دي او ځینې نور بیا فقیران او بې وزله خلک دي ، په کارده چې د کمزورو او فقیرانو لاسنیوی وشي .

بناءً اسلامي شریعت د باغونو وقف کول مشروع وگرځول؛ ترڅو فقیران یې د میوو او د سیورې څخه گټه واخلي.

که چیرې څوک مکمل باغ نشي وقف کولای شي چې د لارو په غاړه یا د ځمکې په یوه برخه کې میوه داره او بې میوې ونې کینوي له یوې خوا به ور څخه خلک استفاده وکړي او له بلی خوا به د چاپیریال په هوا کې مثبت تغیر رامنځ ته کړي چې دا خپله صدقه جاریه ده. په یو حدیث شریف کې راځي:( مَا مِنْ مُسْلِمٍ غَرَسَ غَرْسًا فَأَكَلَ مِنْهُ إِنْسَانٌ أَوْ دَابَّةٌ إِلَّا كَانَ لَهُ بِهِ صَدَقَةٌ). صحیح البخاري

ترجمه:- هیڅ داسې مسلمان نشته چې یوه ونه کینوي او وخوري له هغې څخه انسان او یا حیوان ، مگر داچې ده لره په هغې کې صدقه ده.

په یو بل روایت کې راځي:(من بنى بنيانًا فى غير ظلم ولا اعتداء أو غرس غرسًا فى غير ظلم ولا اعتداء كان له أجرًا جاريًا ما انتفع به أحد من خلق الله). أخرجه أحمد (٤٣٨/٣)

ترجمه:- څوک چې بدون د ظلم او تجاوز څخه یوه آبادی آباده کړي او یا کینوي یو نیالگی پرته له ظلم او تجاوز څخه مگر دا چې دا به دده لپاره جاري اجر وي ترڅو پورې چې گټه پورته کوي ورڅخه یو څوک دالله مخلوق.

**۸- د هدیرې لپاره ځمکه وقف کول او د قبرونو دکیندلو وسائل وقف کول. د هدیرې لپاره ځمکه وقف کول او د هدیرې مربوط ساز و سامان وقف کول هم صدقه جاریه ده. خلکو ته په کار دي چې په امارتي ځمکو کې د مړو دفن کولو پرځای د هدیرې لپاره ځمکه واخلي او وقف دې کړي ترڅو خلک په کې خپل مړی دفن کړي، چې دا کار زمونږ اسلافو کولو او په کارده چې دا سنت په خلکو کې را ژوندی شي.**
**۹- د یتیمانو د کفالت کول. د یتیمانو کفالت او ورسره مرسته کول صدقه جاریه ده.ترڅو پورې چې یتیم لوی شوی نه وي او د یتیمانو کفیل مړ شي پس له مرګه به هم ورته ثواب رسیږي .همدا راز کله چې یتیم لوی شي او په صدقه جاریه سره د هغه نیکه تربیه وشي د هغه د نیکو کارونو اجر به هم کفیل ته رسیږي. نبي علیه السلام فرمایي:( أَنَا وَكَافِلُ اليَتِيمِ في الجَنَّةِ هَكَذَا) وَأَشارَ بالسَّبَّابَةِ وَالوُسْطَى ، وَفَرَّجَ بَيْنَهُمَا . رواه البخاري .**

**ترجمه:- زه او د یتیم کفالت کوونکی به په جنت کې داسې یو او په منځنۍ او سبابه ګوتو یې اشاره وکړه او د دواړه ترمنځ یې فاصله راوستله.**

**۱۰- د شفاخانو او روغتونو نو جوړول او شفاخانو لپاره د اړتیا وړ وسائل او سامانونو اخیستل. شفاخانې او روغتونونه عام المنفعت ځایونه دي او هرڅوک ورڅخه استفاده کوي، بناءً دخیریه شفاخانو جوړول او د هغو لپاره د ضرورت اسباب اخیستل صدقه جاریه ده.**

**شفاخانې هغه ځایونه دي چې د خلکو ژوند په کې ژغورل کیږي او د مریضانو په علاج معالجه کیږي ، دشفاخانو حمایت کول نیک عمل دی او د هغو خدماتو ثواب به پس له مرګه هم انسان ته رسیږي چې په دوامداره توګه استعمالیږي.**

**۱۱- د افغاني سرې میاشتې سره د اطفالو د علاج په برخه کې مرسته کول هم صدقه جاریه ده. د افغاني سرې میاشتې ټولنه په کال کې د شفاخانې او صحي برنامو لپاره په ټول افغانستان کې له خلکو اعانه او مرسته راټولوي، مونږ او تاسو ټولو ته په کاردي چې ورسره مرسته وکړو ،ځکه افغاني سره میاشت د هغو ماشومانو او کوچنیانو زړونه په خارج کې عملیات کوي چې په زړونو کې سوری ولري چې په دې برخه کې کومک او مرسته صدقه جاریه ده ،ځکه دا به څومره بهتره وي چې ستا په کومک او مرستې سره د چا زړه ورغول شي او د هغه د ژوندي پاتې کیدو سبب وګرځي.**
**۱۲- د معذورو اشخاصو لپاره مصنوعي اعضاء اخیستل. دمعذورو اشخاصو لپاره د پلاستیکي لاس یا پښه او یا هم سترګه اخیستل صدقه جاریه ده.**
**۱۳- اړمنو اشخاصو لره وینه ورکول هم صدقه جاریه ده.**
**۱۴-د مړو او زخمیانو د نقل لپاره آمبو لاسونه اخیستل هم صدقه جاریه ده.**
**۱۵- په سیندونو ، ویالو باندې د پلونو جوړول صدقه جاریه ده. که چیرې څوک په سیند یا ویاله باندې پول کیږدي او خلک ورڅخه استفاده کوي دا هم صدقې جارېې صورت دی.**
**۱٦-لارې او سرکونه جوړول. داچې خلک د لارو او سرکونو څخه په تللو او راتللو کې استفاده کوي نو د لارې جوړول او یا د سرک جوړول هم صدقه جاریه ده چې ثواب انسان ته پس له مرګه هم رسیږي.**
**۱۷- په جهاد کې په سنګر کې پهره کول صدقه جاریه ده او څوک چې رباط په حالت کې وفات شي تر قیامت پورې به ورته ددې عمل اجر ورکول کیږي .په حدیث شریف کې راځي: ( رِبَاطُ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ خَيْرٌ مِنْ صِيَامِ شَهْرٍ وَقِيَامِهِ ، وَإِنْ مَاتَ جَرَى عَلَيْهِ عَمَلُهُ الَّذِي كَانَ يَعْمَلُ ، وَأُجْرِيَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ ، وَأَمِنَ الْفَتَّانَ ).صحیح مسلم - عبد الباقي (۳/ ۱۵۲۰)**

ترجمه:- په سنگر کې یوه ورځ او یوه شپه پهره کول د یوې میاشتې د روژې او د روژې د قیام څخه بهتره ده او څوک چې په دې حالت کې وفات شو جاري به وي دده لپاره ثواب د هغه عمل چې ده کولو او رزق به ورته رسيږي او د قبر له فتنې څخه به په امن کې وي.

## د صَدَقِې جاریې فضیلتونه:

په قرآني آیتونو او نبوي آحادیثو کې د صدقه جاریه فضیلتونه بیان شوي دي .

صدقه جاريه صالح عمل دی او الله جل جلاله فرمايي چې د صالح عمل ثواب لري. الله تعالی فرمايلي دي: {مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ} النحل:( ٩٧)

ترجمه:- چاچې نیک عمل وکړ سړی وي او که ښځه په داسې حال کې چې مؤمن وي نو خامخا هرو مرو به مونږ هغه ته ژوند ورکړو ډېر پاکیزه ژوند او خامخا هرومرو به مونږ هغوی ته د هغوی د اجر جزاء ورکړو د هغو تر ټولو ښو عملونو په بدل کې چې هغوی به کول.

صالح عمل دوه ډوله دی یو هغه چې په استعمال سره له منځه ځي او بل هغه چې دائم پاتې کیږي او خلک ورڅخه ګټه اخلي چې هغه صدقه جاريه ده.

الله تعالی فرمايلي دي چې مونږ هغه عملونه ليکو چې خلکو مخکې کړي دي او جاري ګټه ورڅخه اخيستل کيږي. الله تعالی فرمايلي دي:{إِنَّا نَحْنُ نُحْيِي الْمَوْتَى وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوا وَآثَارَهُمْ وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَاهُ فِي إِمَامٍ مُبِينٍ} يس:( ١٢)

ترجمه:- بیشکه مونږ همدا مونږ مړي ژوندي کوو او مونږ هغه څه ليکو چې دوی يي مخکې ليږلي او ددوی پاتې نښې( هم ) او هر شی مونږه هغه په ښکاره اصل (لوح محفوظ) کې درج کړي دي.

امام قرطبي ددې آیت په تفسیر کې فرمايي: آثار د انسان هغه څه دي چې پاتې کیږي او يادول کيږي او پس له مرګه د هغه نيک اثر بدل ورته ورکول کيږي لکه عمل چې خلکو ته يي ښوولی وي او يا يې کتاب ليکلي وي او يا وقف کړي وي او مسجد او رباط بنا کړی وي او یا يې په اوبو پول جوړ کړی وي. الجامع لأحكام القرآن (١٥/ ١٢)

په يو حديث شريف کې راځي چې څوک يوه نيکه طريقه ايجاد کړي ، دده څخه وروسته چې څوک وربانديې عمل کوي ده ته به يي اجر رسيږي. (من سن في الإسلام سنة حسنة فعمل بها بعده كتب له مثل أجر من عمل بها). صحيح مسلم - عبد الباقي (٤/ ٢٠٥٩)

د صدقې په باره کې بې شميره آيتونه او آحاديث راغلي دي چې په هغې کې صدقه جاريه هم شامليږي.

په حديث شريف کې راځي چې الله تعالی به د صدقه کوونکي سره بلا ترجمانه- بلاکيف- خبری وکړي.(عن عدي بن حاتم - رضي الله عنه - ، قَالَ : قَالَ رَسُول الله - صلى الله عليه وسلم - : مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إلاَّ سَيُكَلِّمُهُ رَبُّهُ لَيْسَ بَيْنَهُ وبَيْنَهُ تَرْجُمَانٌ ، فَيَنْظُرُ أيْمَنَ مِنْهُ فَلاَ يَرَى إلاَّ مَا قَدَّمَ ، وَيَنْظُرُ أشْأَمَ مِنْهُ فَلاَ يَرَى إلاَّ مَا قَدَّمَ ، وَيَنْظُرُ بَيْنَ يَدَيْهِ فَلاَ يَرَى إلاَّ النَّارَ تِلْقَاءَ وَجْهِهِ ، فَاتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ ). متفق عليه .

ترجمه:- عدی بن حاتم رضي الله عنه وايې چې نبي عليه السلام فرمايلي دي: هيڅوک له تاسو نشته مگر داچې د هغه سره به د هغه رب خبری وکړي (د قيامت په ورځ بلاکيف) نه به وي دده او دده د پروردګار ترمنځ ترجمان.وبه ګوري خپل ښي اړخ ته نه به ويني مگر هغه څه چې ده مخکې ليږلي دي بيا به خپل کيڼ اړخ ته وګوري نه به ويني مگر هغه څه چې ده مخکې ليږلي دي بيا به وګوري خپلې مخې ته نه به ويني مگر اور مخامخ ده ته ، نو ځان وساتئ د اور څخه اګر که په نيکه خرما باندې وي.

په يو حديث کې راځی: (سَبْعٌ يَجْرِي لِلْعَبْدِ أَجْرُهُنَّ مِنْ بَعْدِ مَوْتِهِ، وهُو فِي قَبْرِهِ: مَنْ عَلَّمَ عِلْمًا، أَوْ كَرَى نَهرًا، أَوْ حَفَرَ بِئرًا، أَوْ غَرَسَ نَخْلا، أَوْ بَنَى مَسْجِدًا، أَوْ وَرَّثَ مُصْحَفًا، أَوْ تَرَكَ وَلَدًا يَسْتَغْفِرُ لَهُ بَعْدَ مَوْتِهِ. مسند البزار (١٣/ ٤٨٣)،أخرجه أبو نعيم فی الحلية (٢/٣٤٤)

ترجمه:- اووه شيان دي چې رسيږي بنده ته اجرونه د هغې پس له مرگ د هغې څخه په داسې حال چې هغه په قبر کې وي: چاچې چاته عمل ورزده کړ او يا يې نهر وکاږلو او يا يې کوهی وکیندلو او یا یې دخرما ونه کینوله او یایې جومات جوړ کړ او یایې په میراث سره مصحف پریښود او یا یې صالح بچی پريښود چې د هغه له پاره دالله څخه ښښنه غواړي د هغه د مرگ څخه وروسته.

په يو بل حديث شريف کې راځي چې د څلور کسان دي چې هغوی ته ثواب پس له مرگه هم رسيږي: (عَنْ أَبِي أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَرْبَعٌ تَجْرِي عَلَيْهِمْ أُجُورُهُمْ بَعْدَ الْمَوْتِ رَجُلٌ مَاتَ مُرَابِطًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَرَجُلٌ عَلَّمَ عِلْمًا فَأَجْرُهُ يَجْرِي عَلَيْهِ مَا عَمِلَ بِهِ وَرَجُلٌ أَجْرَى صَدَقَةً فَأَجْرُهَا يَجْرِي عَلَيْهِ مَا جَرَتْ عَلَيْهِ وَرَجُلٌ تَرَكَ وَلَدًا صَالِحًا يَدْعُو لَهُ). أحمد (٣٦/ ٦٥٦)

ترجمه:- د ابو امامه باهلي رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وايي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې وه يې فرمايل: څلور کسان دي چې اجرونه به يې جاري وي پس له مرگه، يو هغه سړی دی چې د رباط په حالت کې د الله تعالی په لاره کې مړ شي او بل هغه سړی دی چې ښوونه وکړي د علم نو دهغې اجر به ورته جاري وي او بل هغه سړی دی چې صدقه ورکړي چې د صدقې اجر به ورته جاري وي وي ترڅو چې هغه صدقه جاري وي او بل هغه سړی دی چې پريږدي صالح بچی چې هغه ورته دعاء کوي.

امام ابوبکر العربي وايي : د الله تعالی د پراخ فضل په وجه هغه ثواب ورکوي پس له مرگه لکه څرنگه چې ثواب ورکوي په ژوند کې او هغه هم په شپږو شيانو باندې: يوه صدقه جاريه ده، او بل هغه علم دی چې نفع ورباندې اخيستل کيږي او بل صالح بچی دی چې دعاء کوي (مور یا پلار ته) او د ونې کینول دي او بل زراعت کرل دي او بل د الله تعالی په لار کې (جهاد) په لوړې کرښه کې شپه په ويښه تيرول دي او مرابط لره د قيامت د ورځې پورې د هغه دعمل ثواب جاري وي. إرشاد الساري للقسطلاني (٤/ ١٧١)

په ځينو آحاديثو کې صدقه جاريه دری ذکر شوي دي ، په ځينو نورو کې څلور ذکر شوي دي بيا په ځينو نورو کې اووه ذکر شوي دي ، خو امام سيوطي رح د صدقې جاريې لس موارد ذکر کړي دي چې هغه دادي:( دعلم نشرول، د اولاد دعاء، د خرما کینول، صدقات چې جاري وي، د مصحف په ميراث سره پريښودل، رباط فی سبیل الله، د کوهي او څاه ويستل، د نهر ويستل، د مسافرو لپاره د شپې تيرولو ځای جوړول، د ذکر محل جوړول او د قرآن کريم بل ته زده کول). الديباج على مسلم (٤/ ٢٢٧)

**واقعه:-** يو سړی په ابودرداء رضي الله عنه تيريده او هغه د چارمغز ونه کینوله . هغه سړي ورته وويل ته دا کینوي په داسې حال چې دا ډير کلونه وروسته ميوه نيسي او ته سپين ږيری يې؟ ابودرداء رضی الله عنه ورته وويل: په ما يې کینول دي ترڅو زما څخه وروسته خلک يې ميوه وخوري او ثواب يې ماته راورسيږي. شرح السنة ـ للإمام البغوى (٦/ ١٥١)

**واقعه:-** امام بخاري رحمه الله ذکر کړي چې د مشهور محدث عبد الله بن مبارک رحمه الله نه چا پوښتنه وکړه اي ابو عبد الرحمن! زما په گونډې (زنگون) کې د اووه (٧) کالونه راپه ديخوا زخم دی ، ما ددې هر قسمه علاج وکړو ، او د ډيرو طبيبانو سره مې مشوره هم وکړه خو هيڅ فايده يې راته و نه کړه، عبدالله بن مبارک رحمه الله ورته وويل: لاړ شه او داسې يو ځای و گوره چيرته چې خلکو ته د اوبو ضرورت وي ، هلته يو کوهی وکینده، ځکه زما دا امید دی چې کله هلته او به را اوځي نو دلته به ستا وينه را وتل بند شي او دانه به دې روغه شي . هغه کس همداسې وکړل او د الله په فضل سره روغ جوړ شو .

**واقعه:-** مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله ديو رئيس متعلق ليکلي چې کله به هغه مريض شو ؛ نو خپل موټر به يې حکيم پسې وليږلو او هغه به يې راوستلو ، هغه حکيم به هغه رئيس معاينه کړ او نسخه به يې ورته وليکله .کله به چې حکيم لاړو ، نو ده دا نسخه خپل خادم ته ورکړه او ورته به يې وويل چې بازار ته لاړ شه او د دوايې په دوکان کې ددې قيمت معلوم کړه چې دا دوايې د څو روپو ده . هغه به چې ددې قيمت معلوم کړو ؛ نو هغه رئيس به په هماغه اندازه روپۍ په فقيرانو تقسيم کړي او وه به ويل چې زما دوايې همدا ده. د الله تعالی شان دی چې څرنگه به يې روپۍ صدقه کړی ، نو په هماغه وخت به جوړ تيار او صحت مند شو.